بسم الله الرحمن الرحیم

# د الفت ویب پاڼې ته ښه راغلاست!

دا ویب پاڼه د افغانستان د پښتو ژبې نامتو شاعر او پیاوړی لیکوا ل اروانباد استاد ګل پا چا الفت ته ځانګړی شویده چې د نوموړي د ژوند، لیکوالۍ او آثارو په اړه معلومات خپروي او د الفت صاحب اشعار او نثرونه په بشپړ از صحیح ډول د انترنت له لارې محترمو لوستونکو ته وړاندې کوي.

د الفت صاحب د ژوند نه وروسته ځینو لیکوالو او کتاب پلورنځیو، د شهرت د پیدا کولو یا د تجارتي ګټو د لاس ته راوړلو لپاره د الفت صاحب ځینې آثار او کتابونه د دویم یا دریم ځل د پاره ټول او چاپ کړیدي چه دا کتابونه سربیره په املائي او انشائي غلطیو نورې نیمګړتیاوي هم لري او معلومیږي چه اکثراً دا راز کتابونه د ټایپ کولو نه وروسته، بیا ټولونکی یا خپرونکی تصحیح کړی یا حتی لیدلی هم ندی. د مثال په توګه د استاد الفت نثري کلیات او د الفت نثري کلیات چه د محترم ((یون)) په زیار یو ځل د اطلاعات او کلتور د وزارت او بل ځل د الفت اکاډمی لخوا چاپ شوی دی، او یا هغه کتابونه چې د دانش کتابتون چاپ او خپاره کړیدي او ډېرې نیمګړتیاوې لري.

نو د دې د پاره چه د مرحوم الفت صاحب آثار او لیکنې له یوې خوا په صحیح او اصلي ډول محترمو لوستونکو ته په آسانی او وړیا توګه وړاندې شي او له بلې خوا د الفت صاحب آثار خوندي او و ساتله شي نو دا ویب پاڼه جوړه او پرانستله شوه.

څرنګه چې د مرحوم الفت صاحب ټول نا چاپ شوي کتابونه، شعرونه، مضامین او اشعار تر اوسه زمونږ لاس ته ندي راغلي، نو د ټولو محترمو هیوادوالو څخه چې د مرحوم الفت صاحب نا خپاره شوي کتابونه، شعرونه، مضامین او لیکنې د دوی سره موجود وي په ډېر احترام هیله کیږي چې دا کتابونه او لیکنې په لاندنی پته راواستوي تر څو چې د انترنت له لارې یا د کتاب په ډول خپاره او د ټولو د استفادې وړ وګرځي.

محترم مشران، لیکوال او لوستونکي کولای شي چې د مرحوم الفت صاحب، د هغه د شاعرۍ، لیکوالۍ او ددې پاڼې په اړه خپلې لیکنې، خاطرې، نظریات او وړاندیزونه د انترنت له لارې په دې پته مونږ ته راواستوي. په درناوی.

**برینښنا لیک**

webmaster@ulfat.net

**د پوستې آدرس**

Familie Ulfat
Bulkersteig 18 A
45277 Essen
Germany